مقالهٔ علمی - پژوهشی

ISSN
P: 2788-4155
E: 2788-6441

تاریخ دریافت: ۱۱/ ۱۲/ ۱۴۰۲
تاریخ پذیرش نهایی: ۱۷/ ۰۳/ ۱۴۰۳
تاریخ نشر: ۰۹/ ۰۴/ ۱۴۰۳

OPEN ACCESS <https://ghalibqjournal.com/index.php/ghalibqjournal>

**DOI:** https://doi.org/10.58342/ghalibqj.V.13.I.2.4
صص: ۶۷ - ۸۰

# په اسلامي فقه او د افغانستان جزا کُد کې د متعددو جرمونو د جزاګانو تداخل

پوهنمل عبدالوهاب طيب[۱]، پوهنيار رازمحمد شيرزاد[۲*]

## لنډيز

د شرعي او قانون جزا ګانو د تطبيق په اړه په ټولنه کې ځينې وګړي ناسم او غلط برداشت لري، او فکر کوي چې دا د ټولنې د وګړو سره ظلم دی. د جزاګانو د تداخل موضوع يوه ديني، قانوني او مهمه موضوع ده؛ ځکه د ټولنې د وګړو امن ور پورې تړلی، که په ټولنه کې امن موجود وي ټولنه پرمختګ کولای شي او نا امني د ټولنې د وروسته پاتې کېدو لامل ګرځي. د جزاګانو د تداخل په اړه د اسلامي فقهې او افغانستان د جزاکُد موقف واضح او روښانه دی، د متعددو جرمونو د تر سره کولو په صورت کې د يوې جزا تطبيق د اسلامي شريعت او قانون لوړوالی او د خپلو پيروانو سره، آند جنايتکارانو سره يې نرمي ثرګندوي. د جزاګانو تداخل د اسلامي شريعت د عفوې، بخښنې او آسانی اړخونه هغو خلکو ته روښانه کوي، چې د شريعت په حقيقت نه پوهيږي. د جزاګانو د تداخل په اړه مخکني، او معاصرو علماوو مختلفې ليکنې او څېړنې کړې دي، په څېړنه کې د توصيفي - تحليلي څېړنې تګلاره غوره شوې ده، د معاصرو او مخکنيو فقهاوو ليکنې مطالعه شوې او تحليل شوې دي، فقهاوو په خپلو ليکنو کې د جزاګانو د تداخل يادونه کړې ده. د دې څېړنې نتايج دا په ډاګه کوي چې د اسلامي فقهاوو او د افغانستان د جزا کُد د احکامو له آنده په هغه صورت کې د متعددو جرمونو لپاره د يوې جزا ټاکل ممکن دي او متعدد جرمونه يو جرم ګڼل کيږي، چې دجرمونو د جزاګانو موخه، هدف او غرض يو وي. او که ياد موارد توپير وکوي د جزاګانو تداخل صورت نه مومي.

**کليدي کلمات:** تداخل، تعزيرات، جرم، جزا، حدود، د افغانستان جزا کُد.



[۱] شرعيات پوهنځی/ قندهار پوهنتون، قندهار، افغانستان (wb.taib18@gmail.com)

[۲*] شرعيات پوهنځی/ قندهار پوهنتون، قندهار، افغانستان (نويسندهٔ مسؤول: razshirzad41@gmail.com)

این مقاله تحت مجوز بین‌المللی Creative Commons Attribution 4.0 International License منتشر شده است.

Research Article
Ghalib
ISSN
P: 2788-4155
E: 2788-6441
Received: 01/ 03/ 2024
Accepted: 13/ 06/ 2024
Published: 29/ 06/ 2024
OPEN ACCESS <https://ghalibqjournal.com/index.php/ghalibqjournal>
**DOI:** https://doi.org/10.58342/ghalibqj.V.13.I.2.4 PP: 67 - 80

# Interference between Punishments for Several crimes in Islamic Jurisprudence and the Afghan Penal Code

Abdul Wahhab Tayyeb[1], Raz Mohammad Shirzad[2*]

## Abstract

It has been recognized in Islamic law and statutory laws that the penalties for different crimes overlap. Punishing the perpetrator of multiple crimes for a crime is considered an overlap in punishments. This research aims to apply the punishment on the criminal in the case of several crimes, as it shows the supremacy of Islamic law and its leniency towards its followers and criminals. The necessity of this research is that the intersection of punishments clarifies the aspects of pardon and facilitation in Islamic law for people who do not know the truth of Sharia law, as well as the provisions of Islamic jurisprudence in the Afghan penal code. The provisions are intended to clarify the agreement. In this research, an analytical and descriptive research strategy was chosen, and the writings of contemporary and previous jurists were studied. The jurists mentioned the intersection of punishments in their writings. The results of this study show that according to Islamic jurists and the provisions of the Afghan Penal Code, it is possible to determine punishment for several crimes, and several crimes are considered as one crime. The results of this research show that according to Islamic jurists and the provisions of the Afghan Penal Code, it is possible to determine punishment for several crimes, and several crimes are considered as one crime. If the mentioned cases differ, the penalties will not overlap.

**Keywords:** Interference, Penalty, Crime, punishment Limits, Afghanistan Penal Code.

GHALIB (Research and Scientific quarterly Journal of Ghalib University)
13th years and Volume, Scond Issue, 2024

[1] Faculty of Sharia, Kandahar University, Kandahar, Afghanistan (wb.taib18@gmail.com)
[2*] Faculty of Sharia, Kandahar University, Kandahar, Afghanistan (Corresponding author: razshirzad41@gmail.com)

This article is licensed under a Creative Commons Attribution 4.0 International License.

## ۱. پیلیزه

الله تعالی فرمایلي دي: «فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُمْ مِنِّي هُدًى فَمَنِ اتَّبَعَ هُدَايَ فَلَا يَضِلُّ وَلَا يَشْقَى . وَمَنْ أَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنْكًا وَنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمَى» (طه: ۱۲۳-۱۲۴). ژباړه: اوس که زما له لوري تاسې ته کوم هدایت ورسېږي نو څوك چې زما د هغه هدایت پیروي وکړي هغه به نه ګمراه شي نه به په بد بختۍ کښې اخته شي. او څوك چې زما له [ذکر] د نصیحت له درس، نه مخ واړوی د هغه له پاره به په دنیا کښې تنګ ژوند وي او د قیات په ورځ به مونږ هغه ړوند راپاڅوو.

الله تعالی جزاګانې د دې په موخه وضع کړې دي، تر څو انسان په نورو د ظلم کولو څخه را وګرځوي، په اوسنیو او مخکنیو ټولنو کې د فرد او ټولنې د خوندیتوب په موخه هم وضعي قوانین جوړ شوي دي، په اسلامي فقه او جزاکُد د احکامو له آنده که مجرم د یو جرم څخه زیات جرمونه تر سره کړي، په دې صورت کې مجرم ته د هر جرم لپاره ځانګړې جزا ورکول کیږي او که نه، د ټولو جرمونو لپاره یوه جزا بسنه کوي؟ په دې لیکنه کې یاد سوال د علماوو د اقوالو او د افغانستان جزا کُد، په رڼا کې ځواب شوی دی.

په ټولنه کې د شرعي جزا ګانو په اړه د ځینې وګړو ناسمه پوهه او غلط بر داشت، یوه لویه او مهمه ستونزه ده، یادې ستونزې ته په کتو سره مو وغوښتل چې د جزاګانو د تداخل په اړه د اسلامي فقهاوو نظریات، چې په افغاني ټولنه کې د قوانینو یوه اساسي مرجع ده په تفصیل سره ذکر شي، تر څو یادې ستونزې ته مو تر یو حده حل لاره موندلې وي. د څېړنې اهمیت د موضوع له اهمیت څخه سرچینه اخلي، د جرمونو او جزاګانو موضوع یوه مهمه موضوع ده؛ ځکه د وګړو او ټولنې تر آمن پورې تړلې ده، که په یوه ټولنه کې امن شتون ولري ټول وګړي یې د رفاه، کامیابۍ او پرمختګ څخه برخمن کیدای شي او که امن نه وي ډیرې ستونزې او ناخوالې را منځته کېدای شي. د دې موضوع اهمیت او ارزښت په دې کې دی، چې په قضائي سیستم کې قضات او څېړونکي ورته اړتیا لري؛ ځکه د اسلامي شریعت د څلورګونو مذهبونو نظریات پکې بیان شوي دي. د اسلامي شریعت احکام واقعي، تطبیقي او عملي احکام دي، چې په عملي ژوند کې د قضاء لخوا تطبیق کیږي.

د څېړنې اصلي هدف او موخه د جزاګانو د تداخل په اړه د اسلامي فقهې او جزا کُد موقف واضح کېدل دي. او دوه لاندې فرعي اهداف هم تعقیبوي: په جزاګانو کې د تداخل د معنا روښانه کېدل. - د جزاګانو په تطبیق کې د مجني علیهم سره د اسلامي شریعت او جزا کُد د عدالت او انصاف روښانه کېدل. د څېړنې اصلی پوښتنه کېدای شي داسې مطرح شي: آیا د جزاګانو د تداخل په اړه په اسلامي فقه او جزا کُد کې بحث شوی او که شوي وي موقف به یې څنګه وي؟ همدارنګه دوه لاندې فرعي پوښتنې هم تعقیبوي: - په جزاګانو کې د تداخل معنا څه ده او څه ډول صورت مومي ؟ آیا په اسلامي فقه او د جزا کُد کې د جزاګانو په تداخل کې د مجني علیهم سره عدالت او انصاف شوی دی او که نه ؟ مخکنیو لیکنو

ته کتنې په اړه اړین ګڼل کېږي چې وویل شي: په جزاګانو کې د تداخل موضوع د مخکنیو او معاصرو فقهاوو په کتابونو کې په پاشلي ډول شتون لري، په دې اړه په معاصرو لیکنو کې په « التشریع الجنائي» د عبدالقادر عوده او په « التداخل و أثره في الأحکام الشرعیة» د دکتورمحمد خالد منصور لیکنه او داسې ځینې نورو کتابونو کې په جزاګانو کې د تداخل موضوع په اړه ځینې عنوانونه موجود دي. یوه بله رساله د(تداخل العقوبات في الشریعة الاسلامیة) تر عنوان لاندې. د سعید بن علي بن منصور آل کردیس، لیکنه هم لیکل شوې ده، په یاده رساله کې د عباداتو، معاملاتو او عقوباتو تداخل په تفصیل سره ذکر شوی دی؛ خو زما لیکنه کې یوازې دعقوباتو تداخل د فقهې او افغانستان د جزا کُد له نظره څېړل شوی دی. په ذکر شوو لیکنو کې د جزا کُد د احکامو څخه هیڅ یادونه شتون نلري.

د موضوع ماهیت ته په کتو سره په لیکنه کې کتابتوني تحقیقي تګلاره او میتود غوره شوی دی، د موضوع اړوند مسایل د څلورو مشهورو مذهبونو د اصلي مصادرو څخه راوړل شوي. په اختلافي مسایلو کې د مذهبونو د فقهاوو اقوال په لاندې ډول ذکر کیږي، حنفي مذهب، مالکي مذهب، شافعي مذهب او حنبلي مذهب، د دلیل قوت ته په کتو راجح قول اختیار شوی دی.د فقهاوو د اقوال وروسته په اړونده موضوع کې که د جزا کُد حکم موجود وي د هغه حکم هم ذکر شوی دی، په لیکنه کې هڅه شوې تر څو په عام فهمه ژبه وي تر څو هر لوستونکي ته د ګټې وړ و ګرځي.

## ۲. د تداخل پیژندنه

تداخل په لغت کې د دَخَل څخه اخیستل شوی، چې د خروج(وتلو) ضد ته ویل کیږي، همدارنګه د عیب،شک، مکر او دوکې په معنا هم استعمالیږي(عمر، مختار الصحاح۱۴۲۰هـ ج۱ص: ۲۱۸). الله تعالی فرمایلي دي: **سمح**وَلَا تَتَّخِذُوٓاْ أَيۡمَٰنَكُمۡ دَخَلَۢا بَيۡنَكُمۡ **سجى** (سورةالنحل: آیت: ۹۴]).ابن کثیر د دې آیت په تفسیر کې لیکلي دي: تاسو خپل قسمونه په خپلو منځو کې یو د بل د غولولو وسیله مه ګرځوئ(تفسیر ابن کثیر، ۱۴۱۹هـ: ج۴/ ۶۰۰).

د تداخل اصطلاحي معنا: د ځینې شیانو ګډول له ځینې نورو سره عبارت له تداخل څخه دی (جرجاني، ۱۴۰۳هـ: ۵۴).

## ۲-۱. د تداخل ډولونه

د تداخل تعریف ته په کتو سره ویلی شو، چې تداخل په متعددو أمورو کې راتلای شي، لکه: په الفاظو کې تداخل، په اعدادو کې تداخل او په اسبابو او په عقوباتو کې تداخل، چې په دې ځای کې وروسته ډول یې زمونږ مطلوب او مقصود دی.

– په الفاظو کې تداخل په دې معنا چې ذکر د يو لفظ وشي او مراد ورڅخه د هغه لفظ مسما وي، لکه په دې آيت کريمه کې: إِنَّ الدِّينَ عِنْدَ اللَّهِ الْإِسْلَامُ (آل عمران: 19). پرته له شکه د الله تعالی په وړاندې دين همدا اسلام دی. په دې آيت کې ذکر د دين شوي او مراد ورڅخه د دين مسما ده چې هغه اطاعت دی (قرطبي، ۱۳۸۴ق: ج۴/ ۴۳).

– په اعدادو کې تداخل په دې معنا چې غټ عدد په کوچني عدد قابل د تقسيم وي(قلعجي، ۱۴۰۸ق: ۹۳).

– په اسبابو کې تداخل په دې معنا، چې په دوو سببونو يو مسبب مرتب شي او په اصل کې به هر سبب د جلا جلا مسبب غوښتنه کوي،لکه د غسل او د داسه مختلف اسباب، چې بې اودسي، حيض، جنابت يا د جنابتينو تکرار دي (قرافي، ب.ت. ۲/ ۲۹).

– په جزاګانو کې تداخل هم د اسبابو د تداخل يو صورت دی؛ ځکه په عقوباتو کې تداخل د يو جرم څخه د زياتو جرمونو نتيجه او پايله وي، يعنې دغه عقوبات د يو څخه زيات اسباب لري، د بېلګې په ډول: د قذف او شرب الخمر جزاګانو کې تداخل.

په جزاګانو کې د تداخل پيژندنه: د يو ډول او يا مختلفو ډولونو جرايمو پر تکرار باندې يوه جزا ورکول چې يو غرض او هدف ولري د جزاګانو تداخل ګڼل کېږي. عبدالقادر عوده وايي: «هو ايقاع عقوبة واحدة على تكرار نوع واحد من الجرائم، أو على جرائم متنوعة اذا اتحد الغرض الموضوعة لأجله» (عوده، ب.ت. ۱/ ۶۴۶)؛ يعنې د يو ډول جرمونو پر تکرار باندې يوه جزا ورکول او يا د يو غرض لرونکو مختلفو جرمونو لپاره يوه جزا ورکول د جزاګانو تداخل بلل کېږي.

## ۲-۲. د تداخل مشروعيت

د تداخل د مشروعيت په اړه په اسلامي شريعت کې مختلف دلايلو شتون لري چې ځينې بېلګې يې په لاندې ډول دي:

### ۲-۲-۱. د تداخل د مشروعيت په اړه قرآني نصوص

الله تعالی فرمايلي دي: وَخُذْ بِيَدِكَ ضِغْثًا فَاضْرِب بِّهِ وَلَا تَحْنَثْ (ص: 44). ژباړه: او مونږ هغه ته وويل: جارو را واخله او خپله ښځه په ووهه! او خپل قسم مه ماتوه.

په دې آيت کې، الله تعالی د ايوب عليه السلام هغه موقف بيان کړی چې دی خپلې مېرمنې ته غصه و، او قسم يې وکړ، چې که الله تعالی صحت را کړ سل درې به يې و هم، کله چې الله تعالی صحت ورکړ،

اراده يې وکړه چې خپل قسم کې بري شي؛ نو الله تعالی ورته امر وکړ چې ته جارو را واخله او خپله مېرمن دې پرې ووهه، او خپل قسم مه ماتوه.

د استدلال وجه: په دې آيت کې سل ذُرې وهل په يو وار وهلو کې داخل شول، چې دا د الله تعالی لخوا د تخفيف او رحمت په موخه تر سره شوی دی(الشافعي، ۱۹۹۰م: ۷/ ۵۸).

### ۲-۲-۲. په نبوي احاديثوکې د تداخل مشروعيت

معاويه بن ابي سفيان د زيد بن ارقم رضي الله عنه څخه پوښتنه وکوله: «أَشَهِدْتَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِيدَيْنِ اجْتَمَعَا فِي يَوْمٍ؟ قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: فَكَيْفَ صَنَعَ؟ قَالَ: صَلَّى الْعِيدَ، ثُمَّ رَخَّصَ فِي الْجُمُعَةِ، فَقَالَ: «مَنْ شَاءَ أَنْ يُصَلِّيَ، فَلْيُصَلِّ» (السجستاني، ب.ت: ۱/ ۳۴۸).

ژباړه: آيا د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره په يوه ورځ دوو عيدونو (اخترونو) کې حاضر شوی يې؟ زيد بن ارقم وويل: هو! معاويه رضي الله عنه پوښتنه وکړه: رسول الله صلی الله عليه وسلم څه پکې کول؟ زيد بن ارقم و ويل: رسول الله صلی الله عليه وسلم د عيد لمونځ و کاوه او د جمعې لپاره يې رخصت ورکړ او ويې فرمايل: که د چا خوښه وي چې د جمعې لمونځ وکړي و دې يې کوي.

د استدلال وجه: په دې حديث کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم دا خبره: که څوک و غواړي چې د جمعې لمونځ وکړي هغه د يې وکړي، په دې دلالت کوي، چې د عيد لمونځ د جمعې د لمانځه لپاره کفايت کوي او دا په دې دلالت کوي چې د اختر او جمعې لمونځونه يو د بل پر ځای دربدلی شي او يو په بل کې تداخل قبلولی شي (ابن قدامه، ۱۳۸۸ق: ۱/ ۴۳۵).

### ۲-۲-۳. په اجماع سره د تداخل مشروعيت

د ابن عباس، ابن عمر او يو شمېر نورو صحابه کرامو رضي الله عنهم څخه دا ثابته ده، چې دوی ټول په دې باندې قايل وو چې کله قسمونه تکرار شي، په دې صورت کې يوه کفاره واجبيږي، د دې خبرې مخالفت د هيڅ صحابي څخه نه دی ثابت شوی، چې دا خپله سکوتي اجماع ګڼل کيږي (ابن حزم، ب.ت: ۸/ ۵۳).او د حنفي فقهاوو په آند سکوتي اجماع دليل دی.

## ۳. د جرمونو په جزاګانو کې تداخل

د متعددو جرمونو په جزاګانو کې تداخل په عمومي ډول دريو ډولونو ته وېشل کيږي:

۱. د متجانسو تعزيري جزاګانو تداخل؛

۲. د مختلفو تعزيري جزاګانو تداخل؛

۳. د حدودو، قصاص او تعزيري جزاګانو تداخل.

## ۳-۱. د متجانسو تعزيري جرمونو دجزاګانو تداخل

تعزيري جرمونه مختلف ډولونه لري، د بېلګې په ډول جلد، تغريب، تشهير،صلب، قتل او ... او په تعزيري جرمونو کې د حاکم لخوا، د جرم او مجرم حالت ته په کتو سره مناسبه جزا ټاکل کيږي.

په مالي جرمونو کې متخلف ته مالي جزا ورکول مناسب دي. په هغه صورت کې چې د مجرم څخه د ماحول او ټولنې د فساد ويره وي، د هغه لپاره تغريب (شړل) وړ او مناسبه جزا ده. په هغو خطرناکو جرمونو کې چې د ټولنې امنيت ګواښي، لکه د مخدره موادو تجارت او د عامه خدماتو د مأمورينو وژل، د لواطت او دېته ورته جرمونو لپاره د قتل جزا تر ټولو غوره او مناسبه جزا ده، د دغه جزا د نوعيت او اندازې مناسبوالی حاکم يا قاضي ټاکي (البهوتي، ب.ت: ۶/ ۱۲۳).

که چېرې يو شخص د يو جنس څخه متعدد جرمونه تر سره کړي، چې د ټولو لپاره د حبس (بند) جزا مناسب وي، په دغو ټولو جرمونو کې مجرم ته يوه تعزيري جزا ورکول کيږي، په کشاف القناع کې راغلي دي: که خاص حقوق الله کې مجرم په مختلفو جرمونو کې د څو تعزيري جزاګانو وړ وګڼل شي او جرمونه هم د يو ډول څخه وي (يو بل ته ورته والی ولري) لکه پردۍ ښځه څو ځله مچ کړي او يا مختلف جرمونه وي، لکه په قصدي ډول يوه پردۍ ښځه مچ کړي او بله ښځه لمس کړي، ياد جرمونه يو په بل کې داخلېږي او يوه تعزيري جزا د مجرم لپاره بسنه کوي. او هغه شخص چې په تکراري ډول د يو جنس تعزيري جرمونه تر سره کوي هغه هم د يو ځل مجازاتو وړګڼل کيږي (البهوتي، ب.ت: ۶/ ۱۲۴).

## ۳-۲. د مختلفو تعزيري جرمونو د جزاګانو په اړه د فقهاوو ويناوې

که يو شخص مختلف تعزيري جرمونه تر سره کړې، فقهاء وايي دغه شخص ته يوه تعزيري جزا ورکول کيږي؛ خو د شدت او خفت په لحاظ توپير کوي. امام ابوحنيفه او امام محمد رحمهم الله وايي، چې همدا خبره د شوافعو او حنابله وو يو قول هم دی: کوم کس چې مختلف تعزيري جرمونه تر سره کړي، د دغه شخص په جزا کې د حد د کمې اندازې څخه چې نه دېرش ډُرې دي، زياتوالی نه کېږي؛ ځکه رسول الله صلی الله عليه والسلام فرمايلي دي: «من بلغ حدا في غير حد فهو من المعتدين» ځوک چې د حد پرته په بله جزا کې(مجرم ته) د حد جزا ورکړي، هغه له تجاوز کوونکو څخه دی،خو دامام ابويوسف په آند د پنځه اويا ډُرو څخه چې د حد کمه اندازه ده زياتوالی نشي راتلای (السرخسي، ۱۴۱۴ق: ۱۴/ ۳۶؛ ابن قدام، ۱۳۸۸ق: ۹/ ۱۴۹). مالکيان وايي، چې دا د حنابله وو يو قول هم دی: که حاکم يا قاضي مصلحت پکې ووينې د مختلفو تعزيري جرمونو په جزا ګانو کې د حد څخه زياتولی هم کولای شي (عليش، ۱۲۹۹ق: ۹/ ۳۵۶).

د حنابله او شوافعو یو قول دا دی، چې په تعزیري جزاګانو کې حاکم یا قاضي د لسو دُرو څخه د زیات مجازات کولو حق نلري (شیرازي، ب.ت: ۲/ ۲۲۸). حنابله په دغه متفق علیه حدیث باندې استدلال کوي: «لَا يُجْلَدُ فَوْقَ عَشَرَةِ أَسْوَاطٍ, إِلَّا فِي حَدٍّ مِنْ حُدُودِ اللَّهِ» (البخاري، ۱۴۲۲۶/ ۲۵۱۲). چېرته له حدودو څخه دې د لسو دُرو څخه زیات په دُرو وهل نه کېږي.

## ۳-۳. د جزا کُد له نظره د اړیکه لرونکو جرمونو جزاګانې

په افغانستان کې د تېر جمهوریت نظام پر مهال د افغانستان د جزا کُد په نوم نافذ قانون کې د اړیکه لرونکو جرمونو د جزاګانو په اړه په ۷۳ ماده کې د اسلامي فقهې پیروي شوې ده، یاده ماده داسې صراحت لري: «که چېرې دمتعددو جرمونو ارتکاب د متعددو افعالو په پایله کې صورت مونډلی وي او د واحدې موخې تأمین نوموړي جرمونه پداسې ډول سره جمع کړي وي چې تجزیه و نه منې محکمه له جرمونو څخه د هر یوه په پېشبیني شوې جزا حکم کوي او یوازې د محکوم بها تر ټولو شدیدې جزا په تنفیذ تصریح کوي...» (جزا کُد، ۱۳۹۶: ۷۳).

په (۷۴) ماده کې داسې حکم کوي: «هغه شخص چې د جرم د ارتکاب په سبب په خفیفه جزا محکوم شوی وي او وروسته له هغه سره د مرتبط جرم د ارتکاب په علت په لا شدیده جزا محکوم شي، په دې صورت کې وروستی جزا په هغه باندې تطبیق کیږي او د هغه حبس موده چې د لومړي محکومیت له امله یې تیره کړې ده، مجرا ورکول کیږي» (جزا کُد،۱۳۹۶: ۷۴).

## ۳-۴. د جزا کُد له نظره د غیر مرتبطو جرمونو مادي تعدد

د جزا کُد له نظره کله چې جرمونه متعدد وي او واحده موخه ونه لري، د هر جرم لپاره ټاکل شوې جزا تطبیق کیږي، په دې اړه (۷۵) ماده داسې صراحت لري: « هغه شخص چې د دوو یا له هغو څخه د زیاتو جرمونو مرتکب شي او له هغوی څخه د یوه په هکله د قطعي حکم له صادرېدو د مخه، د هغې موخې وحدت چې نوموړي جرمونه سره جمع کړي، شتون ونلري، له نوموړو جرمونو څخه د هر یوه په پېشبیني شوو جزاګانو محکومیږي او د محکوم بها جزاګانې یوه په بلې پسې پر هغه باندې تطبیق کیږي...»( جزا کُد، ۱۳۹۶: ۷۵).

## ۳-۵. د جزا کُد له آنده د واحد فعل معنوي تعدد

د افغانستان د جزاکُد د جرمونو د معنوي تعدد په اړه داسې صراحت لري: «که چېرې د واحد فعل له ارتکاب څخه، متعدد جرمونه رامنځته شي، مرتکب د هغه جرم په جزا محکومېږي چې جزا یې تر ټولو

شدیده وي. په هغه صورت کې چې پیشبیني شوې جزاګانې یوه د بلې مماثلې وي، محکمه له هغوی څخه په یوې حکم کوي» (جزا کُد، ۱۳۹۶: ۷۶).

## ۳-۶. د جزا کُد له نظره د جزاګانو د تداخل شرایط

د جزا کُد کې د متعددو جرمونو د جزاګانو د تداخل شرایط په صریح ډول نه دي ذکر شوي؛ خو که مونږ د یاد قانون ۷۳، ۷۴، ۷۵ او ۷۶ مادو احکامو ته دقیق نظر وکړو د تداخل لپاره لاندې شرایط ترې را څرګندیږي: ۱. د متعددو جرمونو ارتکاب د واحد پایلې په موخه تر سره کېدل؛ ۲. جزاګانې به اصلي وي، په تبعي او تکمیلي جزاګانو تداخل صورت نه نیسي؛ ۳. د مرتبط جرم په صورت کې د خفیفه جزا تر محکومیت وروسته په شدیده جزا محکوم کېدل؛ ۴. د موخې د وحدت په صورت کې دوه یا له هغو څخه د زیاتو جرمونو د ارتکاب په صورت کې د یوه جرم په هکله د قطعي حکم نه صادرېدل؛ ۵. د واحد فعل د ارتکاب له امله د متعددو جرمونو رامنځته کېدل؛ ۶. د یو او بل سره د جرمونو ارتباط او اړیکه (حزا کُد، ۱۳۹۶: ۷۵- ۷۷).

## ۳-۷. د اسلامي فقهې له آنده د جزاګانو د تداخل شرطونه

۱. د محل یو والی؛ ۲. د جرم د جنس یو والی، لکه په بار بار غلا کول؛ ۳. د اتلاف یا له منځه وړلو یو والی لکه په حرم کې ښکار کول، چې یوه جزا پرې لازمېږي، سره له دې چې په دې کار سره یې د حج او عمرې حرمت هم تر پښو لاندې کړی دی؛ ۴. په انساني حقوقو کې د شبهې یو والی، لکه په فاسده نکاح کې د وطي د جنایت تکرار، یا په تکراري ډول قذف (سعید، ب.ت: ۸۰).

## ۳-۸. د حدودو، قصاص او تعزیري جرمونو د جزاګانو تداخل

کله داسې هم پېښېږي چې یو شخص د حدودو، قصاص او تعزیري ټولو جرمونو مرتکب او د جزا وړ شي، چې په فقه کې دېته د جرمونو او جزاګانو د اجتماع اصطلاح هم کارول کیږي. اسلامي فقهاء په دې اړه مختلف نظریات لري چې په لاندې ډول ورڅخه یادونه کېږي:

### ۳-۸-۱. حنفي مذهب

د حنفي فقهاوو په آند د حدودو په اسبابو کې اصل او قاعده دا ده، چې کله جمع شي، د بنده حق د الله تعالی پر حق باندې مخکې کیږي؛ ځکه بنده حق ته اړتیا لري او الله تعالی د اړتیا څخه غني دی. د بنده د حق اخیستلو وروسته کتل کیږي، که د الله تعالی د حق اخیستل ممکن وو هغه اخیستل کیږي او که

ممکن نه وي هغه ساقطیږي او که یې اخیستل ممکن وي دواړه حقونه یو په بل پسې اخیستل کیږي (الکاساني، ۱۴۲۸ق: ۷/ ۶۲).

امام سرخسي [رحمه الله] وایي: که د حد او قصاص سره تعزیر جمع شي، د بېلګې په توګه: په تکراري ډول لواطت وکړي، قتل وکړي او زنا وکړي، په دې صورت کې قصاص کیږي او نور حدود ورڅخه ساقطیږي؛ځکه محل یې یو دی او د ټولو اخیستل محال او ناممکن دي (السرخسي، ۱۴۱۴ق،۶/ ۱۴۶).

### ۳-۸-۲.مالکي مذهب

مالکي فقهاء حدود په حقوق العباد باندې مخکې بولي او استدلال کوي چې ډیر ځله مجني علیه د خپل حق څخه عفوه کوي او په حدودو کې عفوه شتون نلري.

د مالکي علماء د اقوالو څخه څرګندیږي: چې پرته له قذف څخه کله چې حد، قصاص او تعزیر جمع شي،که هغه په حق الله کې وي او که په حق العباد کې، دغه ټول په قتل کې داخلیږي؛ځکه نفس د قتل وړ دی او د قتل پرته د نورو جزاګانو په تطبیق کې ګټه شتون نلري؛ نو قتل ټولې جزاګانې په بر کې نیسي. حدقذف ځکه نه ورسره جمع کیږي تر څو د انسان شرف او حیثیت د خلکو په منځ کې د زیات وخت لپاره په دغه بد صفت او رذیله سره ملوث نشي(اصبحي، ۱۴۱۵ق، ۴/ ۵۵۵).

### ۳-۸-۳. شافعي مذهب

د امام شافعي په آند، کله چې یو شخص د حد، قصاص او تعزیري جزاګانو مستحق وګڼل شي، دغه ټولې جزاګانې یو په بله پسې ورباندې تطبیق کیږي، لومړی تعزیري جزا ور باندې تطبیق کیږي؛ځکه هغه په نسبت حد او قصاص ته سپکه یا کوچنۍ ده، بیا حد او دریم قدم کې قصاص د تطبیق وړ دی. په تحفة المحتاج او نورو کتابونو کې د جزاګانو د جمعوالي په اړه داسې عبارات راغلي دي: کله چې په یو شخص باندې د څلورو نفرو لپاره په نفس کې قصاص، په اندامونو کې قطع او د قذف حد او تعزیري جزا لازم شي او څلور واړه د جزا غوښتنه وکړي، لومړی تعزیري جزا تطبیق کېږي، که د هغه څخه ژوندی را ووت بیا د قذف په موخه په دُرو وهل کېږي، د هغه وروسته د اندامونه د قصاص په موخه د قطعې جزا نافذیږي د قطعې وروسته وژل کېږي، کوچني جزا د خفت په اساس ځکه مخکې کېږي تر څو د ټولو جزاګانو اخیستل او تطبیقول ممکن شي، لومړی غټه جزا چې وژنه ده ځکه نه نافذیږي چې د هغې په تطبیق سره د نورو جزا ګانو د تنفیذ محل فوت کېږي (الهیتمي، ۱۳۵۷هـ، ۹/ ۱۶۴).

### ۳-۸-۴. حنبلي مذهب

۱. په مشترکو (حق الله او حق العبد) حقونو کې که حدود، قصاص او تعزيري جرمونوکې، قتل شتون نه درلود، په دې صورت کې مجرم ته د هر جرم جزا ورکول کيږي. که يو شخص د تعزير، حدشرب، قذف او قطع يد جرمونه تر سره کړي وي، د دغو ټولوجزاګانې ورباندې تطبيق کيږي او شروع به د اخف څخه کيږي، تر څو د نفس په لمنځه تلو سره د نورو حقونو محل فوت نشي؛

۲. که په مشترکوحقونوکې، حدود، قصاص او تعزيري جرمونو کې قتل شتون ولري، د بېلګې په توګه: غلا، زنامحصن، شرب الخمر او قتل المحاربه، جمع شي. په دې صورت کې حدود الله ټول په قتل کې داخليږي؛ ځکه حدود د زجر لپاره وضع شوي دي او د قتل په صورت کې زجر کومه ګټه نلري او حقوق العباد ټول اخيستل کيږي؛

۳. که حد، قصاص او تعزير په خالص حقوق العباد کې جمع شوي وي، که قتل شتون ولري اوکه يې و نلري جزاګانې يو په بل کې تداخل نه قبلوي، د هر جرم جزا په ځانګړي ډول تطبيق کيږي؛ ځکه د انسانانو د حقونو اخيستل په يادو جرمونو کې د نورو حقونو په څېر ممکن دي؛ په هغه صورت کې چې قتل شتون ولري لومړی به د قتل جزا نه تطبيق کوي؛ ځکه د قتل په جزا سره د نورو جزاګانو تطبيق له منځه ځي؛

۴. که چېرې د قتل پرته، د يو جنس حدود جمع شي، مثلا په تکراري ډول زنا وکړي، شراب وڅښي او غلا وکړي، په دې صورت کې يې جزاګانې تداخل قبلوي او د يو جرم جزا ورکول کيږي؛ ځکه د جزا څخه غرض زجر دی او هغه په يو وار حاصلېدای شي؛

۵. که د مختلفو جنسونو حدود جمع شي، په جزا ګانو کې يې تداخل نه راځي، د بېلګې په ډول: غلا، زنا او شراب څښل، په دې صورت کې ټول حدود پرې جاري کيږي او مجازات د اخف ثم اخف څخه پيلږي (البهوتي، ب.ت: ۶/ ۸۶).

## ۴. موندنې

- اصل په جزاګانو کې تعدد دی، تداخل يوه استثناء ده؛
- سره له دې چې د افغانستان د جزا کُد، د تعزيري جزاګانو د تداخل او نه تداخل په اړه د اسلامي فقهې پيروي کړې ده. مګر د اسلامي فقهې او جزا کُد د جزاګانو د تداخل اصل او اساس توپير لري، په جزا کُد کې هغه وخت د جرمونو جزاګانې تداخل قبلوي، چې جاني د يو غرض په موخه متعدد جرمونه تر سره کړي او يا هم تر سره شوي جرمونو داسې ارتباط او اړيکه ولري چې د تجزيې وړ نه وي. او په اسلامي فقه کې هغه وخت په جزاګانو کې تداخل راځي، چې کله د جرمونو د جزاګانو غرض يو وي.

## ۵. مناقشه

د جرمونو د جزا ګانو د تداخل په اړه چې علماوو کومې لیکنې کړې دي، یوه د عبدالقادر عـوده لیکنـه ده، هغه په «التشریع الجنائي» دریم باب کې، د مختلفو هیوادونو قوانین په ځانګړي ډول د مصر هیواد قانون پرتله کړی او دې پایلې ته رسیدلی چې یاد قانون او پـه ځـانګړي ډول د مصـر هیـواد قـانون پـه اسـتثنائي مواردو کې د جزاګانو تداخل مني. یعنې په هغو قوانینو کې تداخل او عدم تداخل مطلق نـه دی، بلکـې پـه ځینې موارودو کې لکه د جرمونو ارتباط او د متعددو جرمونو تر سره کول د یو هـدف او مـوخې لپـاره هغـه موارد دي چې د جزاګانو د تداخل سبب کیږي. زما په څېړنه کې هم دا روښانه شوه چې د افغانسـتان جـزا کُد هم د نړیوالو جزائي قوانینو په پیروی سره په همدغه دوو مواردو کې د جزا ګـان تـداخل منـي، چـې پـه اصل کې دا د اسلامي فقهې پیروي ده؛ځکه نړیوال قوانین د سلو کلونو څخـه ډیـر وخـت نـه کیـږي چـې تداخل یې پیژندلی دی او اسلامي شریعت څه باندې څوارلس سوه کاله مخکې دا موضـوع روښـانه کـړې ده. دویم« التداخل و أثره في الأحكام الشرعية» د دکتورمحمد خالد منصـور لیکنـه ده، نومـوړي پـه خپـل کتاب کې په عام ډول د شرعي احکامو د تداخل قبلولو او نه قبلولو څېړنه کړې ده، د کـوم وضـعي قـانون سره یې پرتله نده ذکر کړي.او د (تداخل العقوبات في الشريعة الاسلامية) تر عنـوان لانـدې. د سـعید بـن علي بن منصور لیکنه کې، پرته له تعزیر څخه نور ټول عقوبات یوازې د فقهې له نظـره ذکـر شـوي، او زمـا لیکنه کې د حدودو او قصاص سربیره د تعزیري جرمونـو د جزاګـانو د تـداخل پـه اړه هـم بحـث شـوی، د تعزیري جرمونو جزاګانو د تداخل په اړه د جزا کُد احکام هم ذکر شوي دي. په لنډ ډول ویلای شو، چې د کومو جرمونو د جزا غرض او هدف او یا هم د جرمونو د ارتباط او اړیکې په صورت کـې د جزاګـانو تـداخل راجح او غوره قول دی، چې د نړۍ ټولو قوانینو منلی او ور باندې اعتراف کوي.

## ۶. پایله

۱. په متعددو جرمونو باندې د یوې جزا ورکول عبارت له تداخل څخه دي؛

۲. په تعزیري جرمونوکې که د یوې نوعې څخه وي او که د مختلفو انواعو څخه وي، مجرم ته یوه تعزیري جزا ورکول کیږي، کله شدیده او کله خفیفه؛

۳. په جزاګانو کې د تداخل هدف د مسلمانانو سره نرمې کول دي، چې دا د اسـلامي شـریعت د مقاصـدو سره مناسب هم دی؛

۴. د احنافو په آندکه د حد او قصاص سره تعزیر جمع شي تعزیري جزا په قصاص کې داخلیږي؛

۵. د شوافعو په آند حد، قصاص او تعزیري جزاګانې یو په بل کې نه داخلیږي، مجرم تـه د هـر جـرم جـزا ورکول کیږي؛

۶. د څلورو مذهبونو د فقهاوو په اتفاق په حق العبد کې تداخل شتون نلري؛
۷. د جزا کُد د جزاګانو په تداخل کې د اسلامي فقهې پیروي کړې او دغه استنثاء یې منلې ده.

## ۷. وړاندیزونه

۱. حاکمانواو قاضیانو ته مې وړاندیز دی تر څو په جزاګانو کې تداخل مراعات کړي؛ ځکه په عفوه کې خطا تر دې ډېره غوره ده چې په جزا کې قاضي خطا شي؛
۲. چارواکو او مسئولینو ته مې وړاندیز دی تر څو داسې شرایط او امکانات برابر کړي، چې د جرم تر سره کولو مخه ونیول شي؛
۳. علماوو او خطیبانو ته مې وړاندیز دی چې د ممبر له لارې خلکو ته دنیکو کړنو توصیې او د ګناهونو بدي بیان کړي؛
۴. علمي او تحصیلي مرکزونو ته مې وړاندیز دی، چې د جرم او جزاګانو موضوعاتو بیانولو ته ډېره توجه وکړي؛
۵. د کورنیو مشرانو ته مې وړاندیز دی چې د خپلو اولادونو دیني تربیې ته ډېره توجه وکړي؛
۶. ټولو مسلمانانو ته مې وړاندیز دی چې خپل دین ته مخ کړي او په شریعت منګولې ټینګې کړي، ترڅو د دنیوي مجازاتو او د آخرت د رسوایي او ذلت څخه په امن کې و اوسي.

**ORCID**
**Abdul Wahhab Tayyeb** https://orcid.org/0000-0003-2350-2700
**Raz Mohammad Shirzad** https://orcid.org/0009-0000-0377-4499

## مأخذونه

۱. ابن حزم، أ. ا. (ب.ت). **المحلی بالآثار**. بیروت: دارالفکر.
۲. ابن قدامه، أ. ا. (۱۳۸۸هـ). **المغني**. قاهره: مکتبة القاهرة.
۳. ابن کثیر، أ. (۱۴۱۹هـ). **تفسیر ابن کثیر**. بیروت: دار الکتب العلمیة.
۴. اصبحي، م. (۱۴۱۵هـ). **المدونة**. بیروت: دار الکتب العلمیة.
۵. بخاري، أ. ا. (۱۴۲۲هـ). **صحیح البخاري**. بیروت: دار الطوق.
۶. بهوتي، م. ب. (ب.ت). **کشاف القناع عن متن الاقناع**. ب.ت: دارالکتب العلمة.
۷. جرجاني، ع. ا. (۱۴۰۳هـ). **التعریفات**. بیروت: دارالکتب العلمیة.
۸. رازی، ز. ا. (۱۴۲۰هـ). **مختار الصحاح**. بیروت: المکتبة العصریة.
۹. سجستاني، أ. د. (ب.ت). **سنن أبي داود**. بیروت: المکتبة العصریة، صیدا.
۱۰. سرخسي، م. ش. (۱۴۱۴هـ). **المبسوط**. بیروت: دارالمعرفة.

۱۱. شافعي، أ. (۱۹۹۰م). **الأم**. بيروت: دارالمعرفة.

۱۲. شيرازي، أ. (ب.ت). **المهذب في فقه الأمام الشافعي**. بدون مكان: دارالكتب العلمية.

۱۳. **عدليه وزارت**. (۱۳۹۶ هـ ش). **د جزا كُد**. كابل: عدليه وزارت.

۱۴. عليش، م. (۱۲۹۹ هـ). **منح الجليل شرح مختصر الخليل**. بيروت: دارالفكر.

۱۵. عوده، ع. (ب.ت). **التشريع الجنائي الاسلامي مقارنا بالقانون الوضعي**. بيروت: دارالكتاب العربي.

۱۶. قرافي، ا. ش. (ب.ت). **الفروق**. بدون مكان: عالم الكتب.

۱۷. قرطبي، أ. ا. (۱۳۸۴هـ). **تفسير القرطبي**. قاهره: دارالكتب المصرية.

۱۸. قلعجي، م.؛ قنيبي، ح. (١٤٠٨ هـ). **معجم لغة الفقهاء**. بدون مكان: دار النفائس للطباعة والنشر والتوزيع.

۱۹. كاساني، ع. ا. (۱۳۲۸ هـ). **بدائع الصنائع**. مصر: مطبعة الجمالية.

۲۰. هيتمي، أ. (1357 هـ). **تحفة المحتاج**. مصر: المكتبة التجارية الكبرى.

## References

1. Ibn Hazm, A. A. (n.d.). Al-Muhalla bil Athar. Beirut: Dar al-Fikr.
2. Ibn Qudamah, A. A. (1968). Al-Mughni. Cairo: Maktabat al-Qahira.
3. Ibn Kathir, A. (1999). Tafsir Ibn Kathir. Beirut: Dar al-Kutub al-Ilmiyyah.
4. Asbaghi, M. (1994). Al-Mudawwana. Beirut: Dar al-Kutub al-Ilmiyyah.
5. Bukhari, A. A. (2001). Sahih al-Bukhari. Beirut: Dar al-Tawq.
6. Bahuti, M. B. (n.d.). Kashaf al-Qina’ ‘an Matn al-Iqna’. n.p.: Dar al-Kutub al-Ilmiyyah.
7. Jurjani, A. A. (1983). Al-Ta’rifat. Beirut: Dar al-Kutub al-Ilmiyyah.
8. Razi, Z. A. (2000). Mukhtar al-Sihah. Beirut: al-Maktabah al-Asriyah.
9. Sijistani, A. D. (n.d.). Sunan Abi Dawood. Beirut: al-Maktabah al-Asriyah, Saida.
10. Sarakhsi, M. S. (1993). Al-Mabsut. Beirut: Dar al-Ma'arifah.
11. Shafi’i, A. (1990). Al-Umm. Beirut: Dar al-Ma'arifah.
12. Shirazi, A. (n.d.). Al-Muhadhdhab fi Fiqh al-Imam al-Shafi’i. n.p.: Dar al-Kutub al-Ilmiyyah.
13. Ministry of Justice. (2017). The Penal Code. Kabul: Ministry of Justice.
14. Alish, M. (1881). Manh al-Jalil Sharh Mukhtasar al-Khalil. Beirut: Dar al-Fikr.
15. Awda, A. (n.d.). Al-Tashri' al-Jina'i al-Islami Muqaranan bil Qanun al-Wad'iy. Beirut: Dar al-Kitab al-Arabi.
16. Qarafi, A. S. (n.d.). Al-Furuq. n.p.: Alam al-Kutub.
17. Qurtubi, A. A. (1964). Tafsir al-Qurtubi. Cairo: Dar al-Kutub al-Misriyyah.
18. Qalaji, M.; Qunibi, H. (1988). Mu’jam Lughah al-Fuqaha’. n.p.: Dar al-Nafais lil-Tiba’ah wal-Nashr wal-Tawzi’.
19. Kasani, A. A. (1910). Bada'i' al-Sana'i'. Egypt: Matba’at al-Jamaliyyah.
20. Haytami, A. (1938). Tuhfat al-Muhtaj. Egypt: al-Maktabah al-Tijariyyah al-Kubra.